UK Health Security Agency

# Td/IPV له 3 څخه د 1 کس لپاره کمکي واکسين



په خپله 14 کلنۍ کې، او يا د ښوونځي په 9م کال کې کولی شئ د ځوانانو تقويتي واکسين ته په شرايطو برابر شئ چې دا واکسين کولی شي له تيتانوس، دفتريا او پوليو څخه مخنيوی وکړي. **د Td/IPV واکسين به د دې ناروغيو پر وړاندې ستاسو د بدن دفاعي سيستم پياوړی کړي چې د وخت په تېرېدو سره يې شدت راکمېږي.**

## آيا جانبي عوارض لري؟

د پيچکارۍ په ځای کې پړسوب، سوروالی، او خارښت پيدا کېدل ډېر معمول دي. ځينې اوقات وړې بې درده دانې هم پيدا کېږي، ليکن معمولا په څو اونيو کې ېبرته له منځه ځي. نور شديد تأثيرات هم لري لکه تبه، سردردي، ګنګسوالی يا د کمزورۍ احساس، او د ناروغتيا احساس او پرسېدلې غدې.

که چېرې د واکسينو له تطبيق وروسته د ناروغتيا احساس کوئ، پرستامول وخورئ. د بوتل يا پاکټ پر سر ليکل شوې لارښوونې په دقت سره ولولئ او نظر خپل سن ته مو د درمول مناسب دوز مصرف کړئ. که چېرې اړينه وي نو له 4 تر 6 ساعتونو وروسته دوهم دوز مصرف کړئ.

که چېرې د دوهم دوز له تطبيق وروسته مو بيا هم د بدن د حرارت درجه لوړه وه، نو له GP سره خبرې وکړئ او يا د NHS د 111 مرستندويې شمېرې سره اړيکه ونيسئ.

که چېرې د واکسينو له تطبيق وروسته مو جانبي عوارض لرل، کولی شئ په هکله يې د Yellow Card وېبسايټ له لارې او يا د 0800 731 6789 شمېرې له طريقه مورد ته خبر راکړئ (له دوشنبه تر جمعې د سهار له 9 بجو څخه د مازديګر تر 5 پورې) او يا هم د Yellow Card اپليکېشن ډونلوډ کړئ. **www.mhra.gov.uk/yellowcard**

**اوس ښه وخت دی ترڅو وګورئ چې آيا تر ټولو تازه واکسين مو ترلاسه کړي دي او که نه**

**د NHS د واکسينو تطبيق**

**د ځوانانو لپاره واکسين**

د ځوانانو د واکسينو په هکله د نورو معلوماتو لپاره **www.nhs.uk/vaccinations** وېبسايټ ته مراجعه وکړئ او يا **https://qrco.de/YoungPeopleImms** ولولئ



**کولی شئ هغه دوزونه په آسانۍ سره بېرته اعاده کړئ چې له لاسه مو ورکړي دي.**

دا لارښود د بريتانيا د امنيتي ادارې له خوا ترتيب شوی او توليد شوی دی.

© Crown copyright 2023.
1P 100K JULY 2023 (APS). Product code: YP3BG1PAS Pashto. UK Health Security Agency gateway number: 2023178.

دا لارښود کولی شئ له لاندې لينک څخه ترلاسه کړئ www.healthpublications.gov.uk او يا لادې شمېرې ته زنګ ووهئ 0300 123 1002 (دا کرښې له دوشنبه تر جمعې د سهار له 8 څخه د مازدګير تر 6 پورې د لاسرسي وړ دي).

د دې لارښود انګليسي نسخې د درخواست په صورت کې د لاسرسي وړ دي.

د غوښتنې په وخت کې د دې لارښود ترجمه شوې نسخې هم د لاسرسي وړ دي.

## دا واکسین ما له کومو ناروغیو څخه ژغوري؟

T

**تیتانوس**

تیتانوس یوه درد لرونکي ناروغي ده چې په عصبي سیستم باندې اغېزه کوي او ممکن د عضلاتو د کشش، تنفسي ستونزو، او حتی د مرګ سبب شي. دا ناروغي د بدن د زخمونو یا شکېدلیو ځایونو له لارې بدن ته د خاورې د کوچنې ذراتو او ژوندیو توکو له داخلېدو څخه رامنځته کېږي. تیتانوس له یو شخص څخه بل شخص ته نه منتقلېږي.

D

**دفتریا**

دفتریا یو ډول جدي ناروغي ده چې معمولا د ستوني په درد باندې پیلېږي او په کړندیتوب سره تنفسي ستونزې رامنځته کوي. دا ناروغي زړه او عصبي سیستم تخریبوي، او که شدیده شي حتی د مړینې سبب ګرځي.

IPV

**پولیو**

پولیو داسې ویروس دی چې په عصبي سیستم باندې حمله کوي چې ممکن د عضلاتو د دایمي فلج سبب شي. که چېرې د سینې په عضلاو یا مغز باندې اغېزه وکړي، نو پولیو د مرګ سبب هم کېدی شي.

د ځوانانو تقویتي واکسینو ته Revaxis ویل کېږي، کولی شئ د ناروغانو په هکله یې د معلوماتو لارښود دلته وګورئ **www.medicines.org.uk/emc/product/5581/pil**

### که چېرې زه په ماشومتوب کې د تیتانوس، دفتریا او پولیو واکسین ترلاسه کړم، آیا کولی شم پر وړاندې یې بشپړ محافظت ترلاسه کړم؟

نه، تاسو به د دې لپاره یوه تقویتي واکسین ته ضرورت ولرئ ترڅو وکولی بشپړ محافظت ترلاسه کړئ.

### څو داني تقویتي واکسینونه باید ترلاسه کړم؟

تاسو د تیتانوس، دفتریا او پولیو واکسینو 5 دوزونو ته اړتیا لرئ ترڅو بشپړ معافیت ترلاسه کړئ.

تاسو باید:



په ماشومتوب کې
**لومړي 3 دوزونه ترلاسه کړي وي**



**تاسو باید د خپلې 3 او 5 کلنۍ ترمنځ**
د دې واکسینو 4م دوز ترلاسه کړې وي، دا له ښوونځي څخه مخکې تقویتي واکسین دي



**5م دوز**
باید په 9م کال کې ترلاسه شي (د 13 او 14کلنۍ ترمنځ)

### آیا په راتلونکي کې نورو تقویتي واکسینو ته هم اړتیا لرم؟

ممکن تاسو د دې واکسینو نورو تقویتي دوزونو ته اړتیا و نه لرئ. لیکن، که چېرې مشخصو هېوادونو ته سفر کوئ او یا مو بدن زخمي وي، نو ممکن د واکسینو نورو دوزونو ته هم اړتیا ولرئ، او ممکن د تیتانوس واکسین بلې پېچکارۍ ته اړتیا پیدا شي. د خپل GP په مرکز کې له خپل نرس سره خبرې وکړئ.

### زه به د Td/IPV تقویتي واکسین څنګه پیل کوم؟

تاسو ته به په څنګل کې یوه پېچکاري تزریق شي. پېچکاري د هېڅا نه خوښېږي، لیکن دا به په ډېر سرعت سره تطبیق شي. په پېچکاریو کې استفادې کېدونکې ستنې ورې دي او یوازې کم درد به احساس کړئ. که چېرې د پېچکارۍ د تطبیق په هکله اندېښنه لرئ، نو مخکې له تطبیق څخه یې له نرس یا ډاکټر سره خبرې وکړئ.

### آیا نور داسې واکسین هم شته چې باید ترلاسه یې کړم؟

کله مو چې د Td/IPV تقویتي واکسین ترلاسه کړ، نو تاسو د MenACWY واکسینو لپاره هم په شرایطو برابرېږئ. تاسو باید دا واکسین مخکې د ښوونځي له بشپړولو څخه ترلاسه کړئ. که چېرې تر اوسه په ښوونځي کې یاست لیکن تر اوسه مو دا واکسین نه وي ترلاسه کړي، د ښوونځي له نرس سره خبرې وکړئ. که چېرې مو ښوونځی بشپړ کړی وي، نو باید له خپل GP سره خبرې وکړئ ترڅو بېرته یې جبران کړئ.

له GP سره ستاسو خبرې کول یو ښه کار دی ځکه چې کولی شئ وګورئ چې آیا تازه واکسین مو ترلاسه کړي دي او که نه، مثلا HPV او MMR (سرخکان، شېرې، چیچک).



**که چېرې مو تر اوسه هېڅ وخت د MMR واکسین نه وي ترلاسه کړي، نو باید یو دوز یې اوس او بل دوز یې 1 میاشت وروسته ترلاسه کړئ ترڅو د سرخکانو، شېرې، او چیچک پر وړاندې خوندي پاتې شئ.**